روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف
اوونيزه

جمهوری اسلامی افغانستان
د پوهنې وزارت ۱۳۸۱

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۳ ماه جوزا سال ۱۳۹۶

## د پوهنې د درېيم ملي ستراتيژيک پلان پر پلي کېدو بحث وشو

د پوهنې د وزير ښاغلي ډاکټر اسدالله حنيف بلخي، د عمومي زده کړو د مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري، د ښوونکو د روزنې او ښوونيز نصاب د مرستيال ډاکټر اسدالله محقق، د پلان او ستراتيژۍ عمومي رييس عبدالواسع آرين، مرکزي رييسانو او يو شمېر کورنيو او بهرنيو مالي ملاتړو موسسو د استازو په ګډون د پوهنې پر درېيم ملي ستراتيژيک پلان بحث او خبرې اترې وشوې.

د غونډې په پيل کې د پوهنې ښاغلي وزير د پوهنې نظام په پياوړتيا او پراختيا کې د نړيوالې ټولنې او مرسته کوونکو موسسو له مرستو او همکاريو مننه وکړه، زياته يې کړه، د پوهنې وزارت د نړيوالې ټولنې په مرسته تل هڅه کړې، چې د هېواد د ښوونيز نظام د ودې او پياوړتيا



او د هېواد د بچيانو لپاره د متوازنو تعليمي خدمتونو د برابرولو په موخه منظم پروګرامونه پلان او پلي کړي.

وروسته مسوولو چارواکو په خپل وار خبرې وکړې او په دې برخه کې يې خپلې لاسته راوړنې او ستونزې شريکې کړې، چې د وزارت د رهبرۍ له لوري د لازمو تصميمونو د نيولو په موخه اړينې سپارښتنې هم وشوې.

د مرسته کوونکو بنسټونو استازو هم د پوهنې نظام د ودې او پياوړتيا او زده کړو ته د افغان ماشومانو د لاسرسي، کليوالي ټولګيو د جوړولو او نورو اړوندو برخو کې د پوهنې وزارت له کړنو خوښي وښوده او د يادو برخو د پراختيا په موخه يې د هر ډول همکاريو ژمنه وکړه.

## سنگ تهداب تعمیر لیسه نسوان قلعه نو گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر لیسه نسوان شهر قلعه نو ولایت بادغیس توسط محمد انور اسحاق زی والی ولایت و عبدالقیوم ساجد سرپرست ریاست معارف آن ولایت در حالی که تعدادی از مسوولین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند گذاشته شد.

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در سه طبقه در ساحه ۲۴۰۰ متر مربع زمین اهدایی اهالی منطقه به مصرف مجموعی ۱۹ میلیون افغانی کمک کشور دوست هندوستان اعمار می گردد، که دارای ۲۰ صنف درسی، ۴ اتاق اداری، چاه آب اشامیدنی، دیوار احاطه با سایر ملحقات ضروری می باشد. قابل یاد آوری است که فعلاً در لیسه متذکره به تعداد ۱۰۸۷ تن شاگرد در زیر خیمه ها مصروف آموزش هستند که با اعمار تعمیر متذکره زمینه آموزش بهتر برای شان مهیا خواهد گردید.

## د کابل ښار ښوونځيو د لاسي صنايعو نندارتون پرانيستل شو

د کابل ښار د بېلابېلو ښوونځيو د زده کوونکو د لاسي صنايعو، خطاطۍ او نقاشۍ نندارتون د کابل په غازي عالي لېسه کې د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو د مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري، مالي او اداري مرستيال



سيد حميدالله، د اسلامي زده کړو مرستيال ډاکټر محمد شفيق صميم، د سواد زده کړو مرستيال سردار محمد رحيمي، د کابل ښار د پوهنې رياست مسوولينو، د ولسي جرګې د يو شمېر غړو، ښوونکو او زده کوونکو په ګډون پرانيستل شو.

په دغه نندارتون کې د کابل ښار ښوونځيو د نجونو او هلکانو زده کوونکو د نقاشۍ، خطاطۍ او لاسي صنايعو تر ۲۵۰۰ ډېر آثار ننداري ته ايښودل شوي دي. د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري د کابل ښار د پوهنې رياست ددې نوښت ستاينه وکړه او د داسې نندارتونونو جوړول يې د زده کوونکو د هنري استعدادونو د ودې په برخه کې مهم وبلل.

ښاغلي شينواري زياته کړه، لکه څنګه چې دا نندارتونونه د زده کوونکو د علمي، فرهنګي او هنري استعدادونو په غوړېدو کې مهم رول لري، د هېواد د نورو ولايتونو د پوهنې رياستونه هم بايد ورته پروګرامونه جوړ او د زده کوونکو ترمنځ د بېلابېلو مضمونونو علمي سيالۍ هم پر لاره واچوي.

## نمایشگاۀ معرفی فرهنگ ملی در لیسۀ حبیبیه افتتاح شد

جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف در حالیکه



محترم دکتور محمد ابراهیم شینواری معین تعلیمات عمومی، دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی، شماری از رؤسای مرکزی وزارت معارف، شاگردان، معلمان، مسوولان مکاتب شهر کابل و تعدادی از وکلای محترم پارلمان و مهمانان نیز حضور داشتند نمایشگاه معرفی فرهنگ و کلتور اصیل افغانی که در لیسه عالی حبیبیه تدویر گردیده بود افتتاح نمود .

درین نمایشگاه کلتور و فرهنگ اصیل افغانی ۳۳ ولایت کشور که شامل بخش های لباس، صنایع دستی، پیداوار زراعتی، آشپزی، ظروف مسی، سفالی، وسایل موسیقی و غذا های تهیه شده محلی می باشد از طریق غرفه های جداگانه از سوی شاگردان مکاتب ولایت کابل معرفی میگردد.

محترم وزیر معارف کشور حین بازگشایی نمایشگاه مذکور با توجه به فرهنگ غنی کشور عزیز مان ابتکار ریاست معارف شهر کابل را در رابطه به معرفی فرهنگ اصیل مردم سراسر کشور عزیز ما ستوده و آنرا به خاطر آشنایی نسل جدید به فرهنگ طرز زنده گی، صنایع دستی، پیداوار زراعتی و محصولات حیوانی مردمان ولایات مختلف وطن عزیز ما مهم دانست.

در نمایشگاه مذکور پارچه های تمثیلی که ممثل فرهنگ مردم ما در مناطق مختلف کشور می باشد، ترانه های ملی و میهنی نیز از طرف شاگردان اجرا شد.

سرمقاله:

# وخت له لاسه مه ورکوئ

وخت له سرو زرو سره پرتله شوی؛ خو د وخت ازربښت له دې هم اوچت دی، وخــت د الله(ج) ســتر نعمــت دی او نیکمرغه انسان هغه څوك دی، چې فرصـت ومـومي چـې د الله(ج)عبـادت وکـړي، د هغـه پـه لاره کـې صدقه او خیرات ورکړي، تعلیم وکړي، نورو تـه یــې ورزده کــړي او د حــلاَل رزق د ګټلو لپاره لـه وخت څخه ګټه پورتـه کـړي. ژونـد یـو الهی نعمت دی او د انسان لپاره دا فرصت برابـروي چـې پـه خپلو ښو عملونو د الله(ج)رضا حاصله او واجـب الجنـت شـي، د کائینـاتو سـتر خــالق پــه وخــت قســم کــوي او فرمایي«قسم په زمانـه» لـه دې مبـارك آیـت څخـه څرګنـدیږي چـې د انسـان لپاره وخت ډېره ښه ډالـۍ ده او چـا تـه چـې نصیب ده د نیکمرغـه کسـانو لـه ډلې ګڼل کیږي، لـه مرګـه وروسـته د انسان عمل قطع کیږي او هغـه فرصـت له لاسـه ورکـوي کـوم چـې، د الله(ج)د رضا او ښېګڼو د حاصلولو لپاره یـې پـه واك کې لري، له مرګه وروسته ژونـد کې انسان د نورو دعـاوو، ښـو عملونـو اود الله(ج)ترحم ته سترګې پـه لاره وي. له عبدالله ابن مسعود(رض) څخـه روایـت دی چې له حضرت پیغمبر(ص)څخه مې پوښتنه وکړه چې کوم کار الله(ج)ته ډېر خوږ دی؟ هغـه مبـارك وفرمایـل: «پـه خپل وخت لمـونځ کـول» لـه نومـوړي حــدیث څخــه څرګنــدیږي چــې الله(ج)انسـان تـه د وخـت ارزښـت ورپـه ګوته کوي چې وخت ضـایع نکـړي او له وخت څخه پوره ګټه پورته کـړي.

پورتنیو ټکو ته پـه کتـو سـره د پـوهنې وزارت چــې د هیــواد د میلیونونــو ماشومانو، ځوانـانو، نجونـو او هلکـانو د ښـوونې او روزنـې مسـوولیت پـه غـاړه لري د هیواد له بچیانو څخه چـې زمـوږ د ګران هیواد راتلونکی په دوی پـورې اړه لري غـواړي چـې خپـل ډېـر ګـران قیمته وخت یعنې د زده کړې او پـوهې وخت بې ځایـه تیـر نکـړي پـه خپـل وخت خپل ښوونځي ته لاړ شي او پـه خپل ټولګي کې د خپل ښوونکي خبرو تـه پـه غـور سـره غـوږ ونیسـي، خپـل درسونه په خپل کور کې تکرار کـړي، په هغه څه چې نه وي پـوه شـوي ځـان پوه کـړي. پـه ټـولګي کـې پـه پوښـتنه کولو ونه شرمیږي اوپه هر څـه چـې نـه پوهیږي له خپل ښـوونکي. پـلار، مـور، خـور، ورور او نـورو دوسـتانو څخـه مرسته وغواړي او خپل ځان پوه کـړي، د زده کړې عمر همـدا ښـوونځي تـه د تلو عمر دی که په همـدې وخـت کـې انسان زده کړه ونکړي؛ نو کیدای شـي چې وروسته له ستونزو سره مخ شي. د ښـوونځي پـه عمـر کـې ماشـومان او ځوانان د زده کړې پوره توان او طاقت لـري او د عمـر پـه وروسـتیو کـې لکـه څنګه چې د انسان نور غړي کمـزوري کیـږي د زده کـړې قـوه او د مغـزو د سلولونو تـوان او طاقـت هـم کمـزوری کیږي او پـه زده کـړه کـې چټکتیـا لـه لاسه ورکوي، هر سـن ځانتـه غوښـتنې لري، چې باید په خپل وخـت تـر سـره شي، د ماشـومتوب لـوبې پـه ځـوانۍ او سپین ږیرتوب کې نه کیږي، د ژوند او عمر هر پړاو خپـل خپـل مسـوولیتونه او وجایب لري په ماشـومتوب کـې انسـان فرصت لري، چې زده کړه وکـړي خـو کله چې ځـوان شـي، واده وکـړي او د ماشومانو خاوند شي بیا د اولادونو نفقـه وربانـدې فـرض وګـرځـي؛ نـو مجبـوره دی چې هم کار وکړي هم حلال رزق او روزي وګټـي او هـم تعلـیم وکـړي. چـې د دې دواړو سـرته رسـول ګـران کـار دی؛ نـو درنـو ماشـومانو، ځوانـانو هیله ده، چې خپل ډېر قیمتي وخت بې ځایه تیر نکړئ، خپل درسـونه پـه خپـل وخت ولولئ ځکه چې تیر وخت بېرتـه نه راګرځي او پیښماني ګټه نه لري:

**تیر ساعت په مثال مړی د لحد دی**
**مړی چا دی ژوندی کړی په ژړا**

## تدویر ورکشاپ ارتقای ظرفیت

ورکشــاپ ارتقــای ظرفیــت تحــت نــــام « اداره ورهبری،مشـــــارکت جامعــه وتعلیمــات فراگیــر» بــرای ۶۰ تـــن از آمـــرین ومعلمـــان مســـلکی مکاتـــب شـــهر شـــبرغان مرکـــــز ولایـــــت جوزجـــــان دایرگردیـــد. محتـــرم عبـــدالروف آریــن معــاون تدریســی ریاســت معــارف آن ولایــت تــدویر همچــو ورکشــاپ هـــا را در بلنـــد بـــردن ســـطح دانـــش و ارتقـــای ظرفیـــت مســـــلکی و اداری مســـــوولان و معلمـــان کشـــور مـــوثر دانســـته گفـــت: « ایـــن ورکشـــاپ کـــه از ســـوی قونســـل گـــری کشـــور دوســـت انگلســـتان راه انـــدازی شـــده، مـــدت چهـــار روز ادامـــه داشـــته کـــه شـــاملان آن دانســـتنی هـــــای مفیـــــد را درخصـــــوص رهبـــری ومـــدیریت ســـالم وبرنامـــه های دلچسپ فرامی گیرند.

قابـل یادآوریسـت قـبلاً نیـز ورکشـاپ سـه روزه مشـابه بـه همکـاری همـین نهـاد بـرای شـماری از مسـوولان ومعلمان مکاتـب شـهر شـبرغان دایـر گردیده بود.

# زنان و دختران افغان الگوی شهامت، ایثار و فدا کاری هستند

سهم دادن زنان در فعالیت های سیاسی، اجتماعی،اقتصـادی و فرهنگـی یکـی از ویژه گی های خاص یک حکومـت داری خوب است هر چند کـه نقـش زنـان در عرصه های مختلـف در کشـور مـا طـی سالهای متمادی کمرنگ و فراز و نشـیب



های زیادی را پشت سرگذشـتانده است اما بعد از سقوط حکومت طالبان و با بـه میان آمـدن حکومـت مردمـی از طریـق انتخابات با گذشت زمـان کـار و فعالیـت زنان کشور ما چشمگیر شده است، آنهـا دوشا دوش مردان درهمه عرصه ها اعـم از فعالیت های سیاسی، اجتماعی و سایر بخش های جامعـه لیاقـت و شایسـتگی شان را به نمایش گذاشته، نشان داده اند که زنان موجود ضعیف نبوده و میتواننـد که به مانند مردان در جامعه نقش فعـال و سازنده را ایفا نمایند این بـار خبرنگـار نشریه معارف در رابطه به کـار وفعالیـت آمریــت واحــد جنــدر وزارت معــارف مصاحبه را با محترمه نجیبـه نورسـتانی آمره واحد جندر انجام داده که باهم می خوانیم. درنخست از محترمـه نورسـتانی در مورد کـار و فعالیـت شـان در جهـت ارتقـا ظرفیـت کـاری کارمنـدان وزارت معارف پرسیدم که محترمه نورستانی در زمینه چنین گفتند: آمریت واحد جنـدر درقسمت ارتقـا ظرفیـت کارمنـدان ایـن وزارت فعالیت های مختلف را انجام داده که میتوان آنرا بطور آتی بر شمرد:تکثیـر فورم های نیاز سنجی بـه تمـام ریاسـت هــای وزارت معــارف جهــت معرفــی کارمندان اناث به برنامه های آموزشی در بخش هـای اداره و منجمنـت، اساسـات کمپیوتر ، موضوعات مربوط بـه جنـدر و سایر موارد،معرفی سه تـن از کارمنـدان به برنامه آموزشی انستیتوت ملـی پـلان گذاری تعلیمی در داخل کشور، از سـال ۱۳۹۱الی ۱۳۹۵ایـن آمریـت ورکشـاپ های آموزشی را در رابطه بـه موضـوعات جندر، قانون منع خشـونت علیـه زنـان، اساسـات انترنـت و کمپیـوتر ، پروپـوزل نویسی ، پلان کاری ملی زنان ، اساسات جندر، رهبری ،سلوک مسـلکی و جنـدر ،حقوق زن و حقوق بشر برای(۱۵۴۸ تن )از کارمندان معینیت ها ،ریاسـت هـای وزارت معارف ، کار آموزان ،حـوزه هـای تعلیمی معارف شهرکابل، معارف ولایت کابل و بعضی از ولسوالی های شهر کابل دایر نموده است، همچنان تـدویر برنامـه کتاب خـوانی بـرای کارمنـدان انـاث در دفتر مرکزی وزارت معارف فعالیت هـای بوده است که طی سالهای یاد شده انجام داده ایـم. محترمـه نورسـتانی در مـورد اینکه تا حـال از نشـرو اشـاعه معلومـات شــان بــه هــدف رشــد آگــاهی دهــی کارمندان چه تاثیرات مثبت را مشـاهده کرده انـد گفتنـد: آمریـت واحـد جنـدر تاکنون توانسته اند، که تعداد کثیـری از کارمنــدان وزارت معــارف رادر مرکــزو ولســوالی هــا ازچگــونگی فعالیــت هــای واحد جندر اطلاع رسانی کنندوبا تـدویر ورکشاپها وسایر برنامه هـای آموزشـی و تکثیر اوراق تبلیغاتی باعث ایجاد ذهنیت خوب از کـار و فعالیـت واحـد جنـدردر میان مردم ما شـده انـد. آنـان پیوسـته برای تیم واحد جندر وعده سـپردند کـه درجهـت تـدویر برنامـه هـای آموزشـی همکار می باشـند و درآینـده بـه شـکل بهترزمینه سازی مـی نماینـد. در ضـمن پیشنهادات از همکاران و سایر نهاد های ذیربط در یافت نمودیم که آنـان بخـاطر ارتقا آمریت واحد جندر به ریاست جندر بسیار خوش بین بودند. همچنان اعتمـاد کارمندان وزارت معارف از چگونگی کـار کردها وفعالیت های واحد جنـدر بیشـتر شده وبخاطر حل مشکلات شـان همـه وقت به این آمریت مراجعه مـی نماینـد. محترمــه نورســتانی از اشــتراک شــان درجلسات نظـارتی و مشـورتی بـا وزارت امور زنان و توقعـات شـان ازیـن نهـاد و اینکه تا حال به هدف خود رسیده اند یـا خیر افزودند:چون معـارف یگانـه ارگـان است که طـی چهـار سـال کـه گذشـت بهترین گزارش به ارتباط شـاخص هـای نیپوا یا پلان کاری را بـه وزارت امورزنـان تقدیم نموده و مقام نخست را ازآن خود کرده است. در بعضی مـوارد بـه اهـداف خود رسیدیم و در بعضی موارد به اهداف اصلی و اساسی تقـرب حاصـل نمـودیم. قابل یـاد آوری مـی دانـم کـه از طریـق همـین جلسـات همـاهنگی، ارتباطـات کاری میان ایـن دو اداره تحکـیم یافتـه وزارت امـور زنـان سلسـله برنامـه هـای آموزشی خویش را دروزارت معارف ادامه داده و کارمندان ما را به ورکشـاپ هـای مختلف خویش معرفـی نمـوده انـد، مـا تلاش خواهیم کرد تـا بـه در نظرداشـت وسعت کاری کـه داریـم در وزارت هـای مربوط به ریاست ارتقا بخشیم تا بتـوانیم با داشتن پرسونل بیشتر خدمات بهتـر را عرضه نمایم.محترمه نورسـتانی درمـورد اینکـه کارمنـــدان را در کـــدام عرصـــه حمایـت و رهنمـایی مـی کننـد و آیـا تاکنون به کدام موفقیت هم دست یافته اند یا خیرچنین معلومات دادند: وجایـب و مســـوولیت هـــای کارمنـــدان وزارت بخصوص خانمها تحت نظارت ما است ما از حقـوق و مسـوولیت هـای آنـان در جامعه بـه ویـژه در سـاحه کـاری شـان حمایت می نمایم، تلاش صورت میگیرد تا کارمندان و پرسـونل وزارت بخصـوص خانمها منحیث یک شهروند برابر با سایر کارمندان و برادران از آگـاهی هـای لازم حقوقی و شهروندی بـر خـوردار گردنـد، معارف قسمیکه از نامش پیدا است جای علم و معرفـت اسـت و رویـه کارمنـدان معــارف در برابــر ســایر همقطــاران و خانمهای کشـور نهایـت حسـنه و قابـل ستایش است و شکر خداست کـه مـا تـا الحال شاهد کدام رویه ناپسند در مقابـل جندر در ساحه کاری خود نبوده ایم.

وی موجودیت واحد جندر در یـک اداره دولتی را موثر تلقی کرده گفتند: آمریـت واحد جندر درتطبیق پالیسی ها و پـلان ها ی وزارت معارف به نحوی دخیل مـی باشدو می خواهد اطمینان حاصل نمایـد که تا چه اندازه تطبیق برنامه های کاری این وزارت بـه اسـاس تسـاوی جنسـیت صورت می گیـرد و در پهلـوی آن بـرای آنان که مستحق هستند بهترین حمایت کننــده محســوب میگــردد و در پروســه اســتخدام بهتــرین رهنمابشــمارمی رود ودرضمن ۵نمره امتیازی برای کاندیـدان اناث در نظر گرفتـه شـده اسـت.آمریـت واحد جندر می تواند از راه های مختلـف مشکلات کار مندان برحال خـود را حـل کند و برای ظرفیت سـازی شـان برنامـه های وسیع و دراز مـدت در نظـر بگیـرد. محترمه نورستانی سال گذشته را چنین ارزیابی می کند:سال ۱۳۹۵را نسبت بـه سال های گذشته مثبت ارزیابی میکـنم، یعنی کمبودات راکه درسال هـای قبلـی داشـــتیم در ســـال ۱۳۹۵ نداشـــتیم. خوشبختانه آمریـت واحـد جنـدر پـلان کاری را که درسال ۱۳۹۴ تهیـه کـرده بـود ،بـا تطبیـق بیشـترین مـوارد آن موفقیـــت هـــای زیـــادی را بدســـت آورد.ازجمله بـازنگری نصـاب تعلیمـی از دیدگاه جندر تفاهم با معینیت محتـرم انکشاف نصـاب تعلیمـی وتربیـه معلـم ، شـامل شـدن صـفحه رسـمی جنـدر در سایت معارف ، راه اندازی ورکشاپ ها به سطح معینیت هـا و بعضـی از ولسـوالی هـای کابـل، تکثیـر مـواد تبلیغـاتی بـه معـارف شـهر کابـل ، خـوش بینـی در گـزینش و تقـرر کارمنـدان در پروسـه رقابت آزاد در وزارت معـارف بـه اسـاس تساوی جنسیت نسبت به سالهای قبلـی زیادتر به مشاهده مـی رسـید. محترمـه نورستانی در مورد پلان های سـال روان افزودنـد: آمریـت واحـد جنـدر وزارت معارف پلان هـای خـویش را بـرای سـه سال آینده (۱۳۹۶- ۱۳۹۸) غرض بهبود هرچه بهتر مسایل مربـوط بـه جنـدر را ترتیب و همه فعالیت ها را که منجـر بـه ارتقا ظرفیت کارمندان و آگـاهی بیشـتر کارکنان و سایر شهروندان کشوری گردد مشخص نموده است تا با تطبیـق آن بـه اهداف نهایی که همانا انسـجام و آرایـش بهتـر و بیشـتر نیـرو انسـانی بخصـوص خانمهـا در جهـت آبـادانی و شـگوفایی کشـور محبـوب مـان افغانسـتان اسـت، برسـیم و از حقـوق برحـق خـواهران خـویش کـه در قـانون اساسـی و سـایر قوانین موضـوعه و دیـن مقـدس اسـلام تسجیل یافته اسـت دفـاع نمـایم. بـرای فعلاً کار روی چاپ کتـاب" زنـان نخبـه معارف" و تدویر ورکشـاپها در ولسـوالی های ریاست های معارف ولایـت کابـل و سایر ولایات جریـان دارد، اگـر پیشـنهاد این آمریـت مبنـی بـر ارتقـا آمریـت بـه ریاست و ازدیاد بست هـا پذیرفتـه شـود دامنه فعالیت هـای ایـن آمریـت نهایـت گسـترش پیـدا خواهـد کـرد و توقعـات بیشتر و بهتر از آن متصور خواهد بود.

## پرهرونه

رحمت شاه سایل

چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهرونه نشي
چیرې دې هم ستا د ښایست غوټۍ ګلونه نشي
راشه مظلوم زړه مې په یو نظر یوه لمبه کړه
چې په ظالم زړګي دې پاتې ارمانونه نشي
بیا د جنون مستي ځواني غواړي د مستۍ مینې
بیا چیرته خیال د تورو زلفو ځنځیرونه نشي
وړې مې د روح جنازه چېرته د خندا په اوږو
په وینو سره دې ترې شینکي شینکي خالونه نشي
د نظر غشي مې په زړه باندې په پام اووره
چیرته زخمي پکې دا ستا نازک یادونه نشي
خاموشې شونډې مې لوستي بیداري دې ویل یې
اوروته مه چېره لوګي دې پرې فکرونه نشي
ویده دنیا ای د (سائل) قلمه مه لړزوه
د فریادي اوښکو مات ستوري تندرونه نشي

## ناله به دل شد گره

ناله به دل شد گره، راه نیستان کجاست؟
خانه قفس شد به من، طرف بیابان کجاست؟
اشک به خونم کشید، آه به بادم سپرد
عقل به بندم فکند، رخنه ی زندان کجاست؟
گفت پناهت دهد، در ره آن خاک شو
آنکه شدم در رهش خاک، بگو آن کجاست؟
روز به محنت گذشت، شام به غربت سحر
ساقی گلچهره کو؟ نعره مستان کجاست؟
در تف این بادیه، سوخت سراپا تنم
مزرغم آتش گرفت، نم نم باران کجاست؟
موج نلرزد به آب، غنچه نخندد به باغ
برگ نجنبد به شاخ، باد بهاران کجاست؟
خوب و بد زندگی، بر سر هم ریختند
تا کند از هم جدا، بازوی دهقان کجاست؟
برق نگه خیره شد، شوق زدل رخت بست
خانه پر از دود شد، مشعل رخشان کجاست؟
ناله شدم، غم شدم، من همه ماتم شدم
آن دل خرم چه شد؟ آن لب خندان کجاست؟
ابر سیه شد پدید، باز به چرخ کُهن
اختر برج ادب، مرد سخنران کجاست؟
هم نظر بو علی، هم قدم بوالعلا
هم نفس رودکی، هم دم سلمان کجاست؟
مرد نمیرد به مرگ، مرگ از او نامجوست
نام چو جاوید شد، مردنش آسان کجاست

ارسالی عبدالنجیب ستانکزی

# خواص داروئی عناب

عناب بدلیل داشتن لعاب زیاد نرم کننده سینه است ،ملین است مخصوصاً اگر آنرا با آب و یا شیر بجوشانید، ادرار را زیاد می کند ،عناب آرام کننده اعصاب است،خون را صاف می کند،ضد سرفه است،خواب آور است و بیخوابی را برطرف می کند،جوشانده پوست درخت عناب داروی ضد اسهال است،برای معالجه و التیام زخمهای کهنه گرد ریشه خشک شده عناب را روی آنها بپاشید،هسته عناب خواب آور است،خستگی شدید را برطرف می کند ،رشد موی سر را زیاد می کند،جوشانده عناب گرفتگی صدا را برطرف می کند،جوشانده عناب برای سرفه و درد سینه مفید است، برای برطرف کردن ورم چشم ، عناب را به چشم بمالید، دستگاه هاضمه را تقویت می کند،حافظه را تقویت می کند،کم اشتهایی را برطرف می کند،هرگاه که احساس غمگینی کرده و گریه می کنید یک فنجان دم کرده عناب لبخند به لبهای شما می آرود،و بالاخره برای درمان سرطان آب عناب را با کاهو بخورید.

**مضرات عناب:** عناب در اشخاص سرد مزاج تولید گاز و نفخ می کند . ضمناً عناب نیروی جنسی را کم می کند بنابراین باید با غذاهای محرک مانند عسل خورده شود.

ارسالی حمید

## سپین فصل

سږ مې له خدایه دغه فصل داسې سپین غوښتی دی
لکه د ستورو لوی سیند
لکه دا ستا د پاولي داره کمیس مسته پرکېدلې لمن
لکه د شا دوشمشېره د زیارت سپیني کاغذي کوترې
سږ مې د ا فصل سپین تک سپین غوښتی دی
خو نه د ځان لپاره
زه نور د واورو سړې نه جوړوم
د یخمالک او برف جنګې وختونه تېر دي رانه
تاته برفي نه دروړم
خو سږ دا فصل بیا هم سپین غواړمه
وچو ویالو لپاره
خړو باغو لپاره
د یو شین فصل د راتلو لپاره

رالیږونکی: رساله

## فواید سیب

میزان قند خون را تنظیم می‌کند
کلسترول بالای خون را کاهش می‌دهد
به سلامتی قلب کمک می‌کند
از بروز عفونت پیشگیری می‌کند
سرشار از ویتامین است
برای خوش طعم کردن غذا می‌توان از آن استفاده کرد

ارسالی حسیبه

## غزل

هره ورځ جامې د خپلو سترګو به اوبو مینځم
نورې به ګناوې خپلې ټولې په سجدو مینځم
تا ته د ډک زړه د خاموشۍ زور درمعلوم نه دی
زه یمه چې هره ورځ مې زړه په اسویلو مینځم
اوښکې زما پاکې دي خو تا پکې لیدای نه شم
نوردې تصویرونه هم له زړه هم له لیمو منیځم
باد یې ترینه نه وړي په مودویې انتظاریمه
خمه د تهمت ګرد مې له خپلو اننګو مینځم
هره ورځ مې غندې په شعرونو غزلونوکې
اوس به مې ځان خنګه د پېغور له قصیدو مینځم
اوس مې له تا دومره کرکه شوې او زړه توري یم
ته مې چې لاس ونیسې زر لاس تر مړوندو مینځم

رالیږونکی: طوبا

## خاطرې

بهېږم لکه اوښکه په نظر کې در پسې
ډوبېږمه ګوهره سمندر کې درپسې
یو وخت وو ما تواږې به مې سرپه سر وعدې
اوس کاني لټومه د زړه غر کې درپسې
مستي د ګریوانه درپسې وزې له تیرو
غرور مې یوه خړیکه شي په سر کې درپسې
ځلورو دیوالونو کې ستا سترګو کې مې سترګې
در ورم دا خاطرې دي په خادر کې درپسې
د تا لټونکې شپې را باندې دومره اوږدې شوې
ډیوه اوس ګرځومه زه په لمرکې درپسې

ګل آغا احمدي وردګ

## دوکتور غلام رسول رسولي د پوهنې نهه ویشتم وزیر

دوکتور غلام رسول رسولي د ۱۳۶۶ خخه تر ۱۳۶۷ کاڵ پورې د افغانستان د پوهنې د وزیر په توګه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی دوکتور غلام رسول رسولي د نظر محمد زوی د ۱۳۲۹ کاڵ د کندهار په ولایت کې زیږېدلی او د یو تعلیم یافته افغان په توګه یې د افغانستان په سیاسي، علمي، فرهنګي او پوهنیزو ډګرونو کې خپل موجودیت ثابت کړی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ، منځنۍ، ثانوي او لوړې زده کړې په خپل هېواد کې تر سره کړې دي. ښاغلي رسولي په ۱۳۴۶ کاڵ د مسکو په دولتي پوهنتون کې د ساینس په څانګه کې ماستري او له نوموړي پوهنتون څخه یې د فلسفې په برخه کې په ۱۳۵۰ میلادي کاڵ کې د دوکتورا یا PhD سند لاسته راوړی دی. ښاغلی دوکتور غلام رسول رسولي په پښتو، دري، روسي او انګریزي ژبو خبرې کولې او له کلتوري چارو سره یې هم مینه درلوده.



Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 213, Month June

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# له پوهنې وزارت سره د مرستو او همکاریو لس تړونونه لاسلیک شول

د افغانستان د پوهنې وزارت د هېواد د پوهنیز نظام د ودې او



پیاوړتیا په موخه له ۹ همکارو موسسو سره د نږدې ۲ میلیونه او ۳۵۲ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لس تړونونه لاسلیک کړل. دغه تړونونه د پوهنې د وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي او د یادو موسسو د استازو ترمنځ د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې لاسلیک شول .

د لاسلیک شویو تړونونو له ډلې دوه یې له اکتید موسسې سره لاسلیک شول، چې د لومړي تړون له مخې به یاده موسسه د ۴۶۷ زره او ۹۰۰ امریکایي ډالرو په ټولیز لګښت د فاریاب ولایت د المار، اندخوی، دولت آباد، خواجه سبز پوش، کوهستان، پښتونکوټ، قیصار، شیرین تګاب، قرمقول، قرغان، خان چهارباغ او میمنې ښار د ښوونځیو نږدې ۱۱ زره زده کوونکو ته د کانکور چمتوالي، سواد زده کړې، انګلیسي ژبې او یو شمېر نورو برخو کې ښوونیز کورسونه جوړ کړي. یاده موسسه به د دویم تړون له مخې ۵۳۰۰ کډوالو او راستنو شویو ماشومانو ته د محلي زده کړو ۷۵ ټولګي جوړ کړي او د ننګرهار د بهسودو، کامې، روداتو، کوز کنړ او جلال آباد ښار لس ښوونځي او د کابل ښار یو شمېر ښوونځي به تجهیز او اکمال هم کړي .

پر دغې پروژې ۴۷۷ زره او ۳۹۰ امریکایي ډالره لګښت راځي، چې د راتلونکي یو کال په ترڅ کې به پلې شي .

د دریم هوکړه لیک له مخې چې د څه باندې ۶ میلیونه او ۲۳۳ زره افغانیو په ارزښت د نړیوال معاونت له موسسې سره لاسلیک شو د هرات، بادغیس، غور او فراه ولایتونو ۲۵۰۰ ښوونکو او زده کوونکو ته به د ۴۵ دوره یي ورکشاپونو په لړ کې د روغتیایي زده کړو اسانتیاوې برابرې شي.

څلورم هوکړه لیک د څه باندې ۱۲۵ زره امریکایي ډالرو په ارزښت له خاتم الانبیا موسسې سره لاسلیک شو، چې له مخې به یې یاده موسسه د ډایکنډي ولایت د میرامور او شهرستان ولسوالیو ۱۵۴۰ تنه ښوونکو او زده کوونکو ته به ۴۱ روزنیز ټولګي جوړ کړي.

پنځم هوکړه لیک چې د افغان ښځو د لوړتیا لوړولو له موسسې سره د ۵۷ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیک شو، له مخې به یې یاده موسسه ۱۵۰ تنو نالوستو کسانو لپاره ۵ د سواد زده کړو او د کابل ښار د پنځمې حوزې ۳۰۰ مېرمنو لپاره به د خیاطۍ او ګلدوزۍ ۱۰ حرفوي ټولګي جوړ کړي.

شپږم هوکړه لیک له کنسرن موسسې سره د څه باندې ۱۳۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت وشو، چې پر بنسټ به یې یاده موسسه د تخار ولایت په نمک آب، رستاق او چاه آب ولسوالیو کې د ۷۸۰ تنو نجونو او هلکانو لپاره ۲۴ د محلي زده کړو ټولګي جوړ کړي.

اووم هوکړه لیک له برکت افغانستان موسسې سره د ۵۵ زره او ۷۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیک شو، چې یاده موسسه به یې پرمټ د فاریاب او جوزجان ولایتونو د یو شمېر ولسوالیو ۵۶۵ تنه زده کوونکو ته د انګلیسي، ریاضي او کمپیوټر زده کړو ۲۲ باب ټولګي جوړ کړي.

له یونیدو موسسې سره د شوي هوکړه لیک له مخې به یاده موسسه د ۳۷۵ زره یورو په ارزښت د کابل او ننګرهار د ۱۲-۱۰ ټولګي ۵۰۰ زده کوونکو او ۵۰ تنو ښوونکو ته د تشبث مضمون په اړه ښوونیز پروګرامونه جوړ کړي.

د ژغورني له نړیوالي کمیټې سره د څه باندې ۲۰۷ زره امریکایي ډالرو په ارزښت نهم تړون لاسلیک شو، چې له مخې به یاده موسسه د ننګرهار، لغمان او کابل ولایتونو ۲۱۰۰ تنه نجونو او هلکانو زده کوونکو ته د محلي او چټکو زده کړو ۷۰ بابه ټولګي جوړ کړي او د افغانستان له معارف سره د مرستې موسسه له پوهنې وزارت سره د شوي تړون پراساس د هېواد په بېلابېلو برخو کې د هغو مېرمنو لپاره، چې د جنګ جګړو له امله له زده کړو لرې پاتې شوي د بیا زده کړو اسانتیاوې برابروي. دغه موسسه اوسمهال د کابل ښار په ګډون په غزني، بامیانو، بلخ، بدخشان او پروان ولایتونو کې ۱۲ بابه ښوونځي لري.

د یادو موسسو استازو وروسته په خپل وار خبرې وکړې او د افغانستان د ښوونیز نظام د ودې او پیاوړتیا په برخه کې یې د هر راز مرستو او همکاریو ډاډ ورکړ.

## لوګر د بره کي برک ښوونکو ته د استوګنو نمرو ویش پیل شو

دلوګرد بره کي برک ولسوالۍ د ښوونځیو پر ښوونکو د کورونو د جوړولو لپاره د استوګنو نمرو د وېش لړۍ پیل شوه . ته او ورپسې ټولو مستحقو ښوونکو ته یوه، یوه نمره ځمکه ورکول کیږي .

اوس مهال د خوښۍ او محمدآغې



د یادې ولسوالۍ ښوونکو ته د پخواني ولسمشر حامد کرزي د ۱۰۹۱ ګڼې فرمان له مخې د کورونوجوړولو لپاره د ناصرو کاریز په سیمه کې ۳۵۰ جریبه دولتي ځمکه ځانګړې شوې ده . یاده ځمکه ۵۵۸ نومرې لري، چې د ټاکل شوي کمیسیون له لوري په لومړي سر کې د شهید شویو ښوونکو کورنیو او معیوبو ښوونکو ولسوالیو ښوونکي ښارګوټي لري او په راتلونکي کې به په مرکز پل علم او خرخ ولسوالیو کې هم دا ډول ښارګوټي پرانیستل شي .

د بره کي برک ولسوالۍ دا مهال ۴۳ښوونځي، ۶دیني مدرسې، ۲ دارالحفاظونه او د دارالمعلمین یوه حمایوي ځانګه لري، چې ۶۶۳ تنه ښوونکي په کې پر زده کړو بوخت دي .

## د شهیدې انګیزې لیسې لپاره نوې ودانۍ جوړېږي

د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار اړوند د شهیدې انګیزې لیسې د نوې ودانۍ د بنسټ ډبره د نوموړي ولایت د والي ښاغلي ګلاب منګل



او د پوهنې د رییس پوهندوی الله داد اسمعیل زي لخوا په داسې حال کې چې د دولتي ادارو یو شمېر مسوولینو، قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون درلو کېښودل شوه.

دا ودانۍ په پاخه او اساسي ډول په یو پوړ کې د لسو میاشتو په موده کې جوړېږي، چې اته درسي ټولګي، څلور اداري خونې، د زده کوونکو لپاره ۱۶۰پایي مېز، څوکۍ او نورې اړینې اسانتیاوې په پام کې نیول شوې. پر دې ودانۍ ۱۸۰ زره امریکایي ډالره لګښت راځي، چې دUNHCR له لوري ورکول کیږي.

د ننګرهار والي د یاد ښوونځي لپاره د نوې ودانۍ د رغنیزو چارو پر پیل خوښي وښوده او دا یې د یاد ښوونځي د ښوونیز کیفیت په لوړېدو کې مهم ګام وباله. نوموړي له مرسته کوونکې اداري مننه وکړه او له نورو ورته ادارو یې وغوښتل، چې له معارف سره خپلې مرستې پراخې کړي.

د شهیدې انګیزې په ښوونځي کې دا مهال نږدې ۷۰۰۰ زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې د نوې ودانۍ له جوړېدو سره به ورته د زده کړو خوندي تدریسي چاپېریال برابر شي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل - محمد اکرم وفادار
ا خبریالان: - محمد اشرف رسولي - غلام سخي محمدي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت